سرلوڅ مرادزی

۲۹ / ۰۳ / ۲۰۱۶

# د نورستاني د استعفا تر شا د سيناريو نورې برخې

که څه هم په ښکاره ښاغلي يوسف نورستاني وويل چي د ټاکنو له خپلواک کميسيون څخه يی په خپله خوښه استعفا کړې او هيچا استعفا ته نه دی اړيستي، خو ايا د نورستاني په خبرو کې **په خپله خوښه د استعفا کلمه** رېښتيا ده؟

په خپله خوښه د استعفا له کلمي پرته، که نورستاني بل هرڅه ويلای وای، په ټولنه کې څو تنو ښايی باور پرې کړی وای، خو د ۲۰۱۴ کال د ټولټاکنو له پيله تر ننه، له هغه شرغوبله چي د ټاکنو د خپلواک او څار کميسيونو پر وړاندې په ټاکنو کي د ناکامي دلې له لوري ادامه لري، هيڅوک باور نه کوی چي نورستاني دی په خپله خوښه استعفا کړې وي!

په خبرو کې په خپله خوښه د استعفا د کلمي په مهال هم د نورستاني ژبه ترټرې او شونډې وچې ښکارېدې او دا د هغه فشار ځرګندويه ده چي نوموړی يی استعفا ته اړيستی دی.

د کومي بلي دندې خبره چي نورستاني يی خپله وينا کې د شوي ژمني له مخې يادوي، هم دا رسوي چې د ټاکنو له خپلواک کميسيون څخه د هغه ايسته کېدا په خپله خوښه د استعفا له کبله نه ده، بلکې د هغه سياسي معاملې برخه ده چي ولسي ټولټاکني يي په بډه ووهلي او زياتي وراني او ويجاړی به يي د وخت په تېرېدو نورې هم ځرګندې شی.

بلخوا د نورستاني د استعفا په تړاو د اجرايه رياست وياند مجيب الرحمان رحيمي هم وايي هرڅوک دې درغلي وکړي او بيا دې د مجازاتو پرځای، پر لوړه چوکی وګمارل شی، دوی ته د منلو وړ نه ده.

خو دا چي د اجرايه رياست وياند د ټولټاکنو او د هغه د کميسيونو په اړه د ځانګړي سياسي سيناريو سربېره، د نورستاني په تړاو د مدعي او څارنوال په رول کې له لاسوندونو پرته د درغلی کلمه کاروي او په ورته وخت کې د محکمي او قاضی په نقش کې پرې سملاسي د مجازاتو پريکړه کوي، بېل بحث دی چي دلته يې څېړني ته فرصت نشته.

پوښتنه دا ده، د ټاکنو په خپلواک او څارکميسيونو کې د کميشنرانو د بدلون او په ټوله کې د روڼتيا په نوم په ټاکنو کې د سمون له غوړو خبرو د اجرايه رياست او د هغې شا کې د نظارشورا او جمعيت موخه څه ده؟

اجرايه رياست ولي د ملي يووالي د تېر يو نيم کال حکومت به پير کې چي خپله هم د دې حکومت غټه اوغوښنه برخه جوړوي، هېواد کې د امنيت، د جګړې د پای، د فساد د مخنيوي، ځوانانو او وګړو ته د کار د پيداکولو او داسي نورو مبرمو چارو پرځای، يوازې د ټاکنو په کميسيونو کې د کميشنرانو په بدلون او يا په ټوله کې په ټاکنو پورې نښتي دی؟

په ټوله کې د اجرايه رياست او د هغه په ترکيب کې د ګډونوالو کړيو موخه دا ده چي د حکومت هغه برخه چي دوی يي د ځان نه بولي، د ټاکنو په اړوند چارو کې دومره بوخته وساتي چي فرصت پيدا نه کړي د افغانانو د امنيت، او د ژوند د نورو برخو په سمون کې يو ګام قدرې واخلي. بلخوا دوی هڅه کوي مرکزي حکومت دومره ذليل، کمزوری او مړژواندی وساتي چي د دوی د ملي ضد سيناريو د پاتي برخې د پليټوب مخنيوي ونه کړای شي.

لکه څنګه چي ډېرکي افغانان په دې باور دي، د اجرايه رياست لخوا د ټولټاکنو په کميسيونو کې تغيير او بدلون تر ټولو لومړی په دې موخه ترسره کيږي چي افغانانو او نړيوالو ته وښيی چي د ۲۰۱۴ کال په ټولټاکنو کې د دوی ماتي، د وټونو د کمښت له کبله نه وه، بلکې د ټاکنو کميسيونو د دوی حق اشرف غني ته ورکړی او اشرف غني د وټونو د ډېرښت په لامل نه، بلکې ټاکنو کې د نوموړي په ګټه، د د دغو کميسونو د لاسوهني له کبله ولسمشر شوی دی.

د راتلونکو ټولټاکنو د روڼتيا او په دې اړه د ټاکنو په کميسيونو کې د کميشنرانو له قانوني وخته مخکې د بدلون رابدلون او بيا بيا چاڼ په تړاو، د اجرايه رياست پرلپسې غومبر، پر ګردې ميزونو د نظارشورا د خواخوږو د ديموکراسۍ په پليټوب په نوم لاپې باتي او د جهادي مافيا په لاړو لمدو په اصطلاح د مدني ټولنو غورځې پرځې او ګړيوان څېرونه، ټول د دې لپاره ترسره کيږي چي د ۲۰۱۴ کال ټولټاکني چي د افغانستان په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره د افغانانو د ګڼو پرګنو په ګډون ترسره شوې بې اعتباره کړي، د بدلون او سمون لپاره د هغه خوځښت



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

مخه ډب کړي چي د ټاکنو په مهال راپيل شو او د هغو غوښتنو او موخو د پليتوب مخه ونيسي چي ټولټاکني د هغو لپاره په پام کي نېول شوې وې!
دوی د همدغو درواغجنو ديموکراتيکو لاپو باټو په مټ، ټولټاکني چي د ديموکراسی منځړی جوړوي، په ولس کي بي اعتباره کړی او د هغه غورځنګ مخه يي ډب کړه چي د ټولټاکنو په مټ د ديموکراسی د پليتوب له لاری د ټولني د بدلون او ټولنيز سمون په موخه راټوکېدلی وو.
لومړی د ضياالحق امرخېل او اوسمهال به د نورستانی او د ټاکنو په کميسيونو کي د نورو کميشنرانو په بدلون ، د ۲۰۱۴ کال د ټولټاکنو د تخريب او ويجاړی راپيل شوی بهير بل پړاو ته ورپورېوځی او د نوري سيناريو د پاتي برخي د پليتوب لپاره به هڅي ګړندۍ کيږي.
د سيناريو د بېلابېلو برخو د پليتوب په لړ کي د اجرايه رياست موخه دا ده چي د ټاکنو په کميسويونو کي د خپلي خوښي کميشنرانو په ګمارلو سره په راتلونکو ټاکنو کي د نظارشورا، اسلامي جمعيت، د پدرام پشان د ستميانو او په نورو ډلو ټپلو کي د خپلو نوماندانو د ټاکنو لپاره لار هواره کړي. د ملي شورا په دواړو خونو ( ولسي او مشرانو جرګه) کي غټ ډيرکی ترلاسه شي او په ښکاره، بويه په اصطلاح له ديموکراتيکو لارو د هغو بدلونونو لپاره لاس پکار شي چي سقاو او احمدشا مسعود يی ارمانونه ګور ته له ځانه سره وړي دي.
په هغه لويه جرګه کي به چي اجرايه رياست ورته له اوس نه په ټول ځواک او د چلوټوپه بېلا بېلو بنو تياری نيسي، اجرايه رياست به په صدارت او رياستي نظام به په پارلماني هغه بدل کړي. په اساسي قانون کي به د خپلي خوښي فيډريشن لپاره لار پرانيزي؛ په ملي ترمينالوژي کي به د ايراني هغي لپاره کړکی وازه کړي؛ په عسکري برخه، د ملي سرود او په کاغذي نوټونو کي به د ژبو خبره راپورته کړي؛ د افغانستان نوم به خراسان او يا ختيځ ايران کيږدي؛ افغانان به خراسانيان يا ختيځ ايرانيان شي او کابل به د تهران پشان د ايرانيانو ژمنی يا د ايران خاور زمين پلازمېنه شي او عجيبه دا ده اوس هم د دې ټولو پلانونو غټه برخه د ګډې تمدني حوزې تر نوم لاندې پټ ساتل کيږي.
د داسي ملي ضد موخو د پليتوب لپاره به ډېر امرخېلان، نورستانيان او کميشنران د قرباني ګډوري وي، دوی به له ځانه نه وي خبر خو د دوی او د کورنۍ په برخليک به يې لوبه روانه وي. ټاکنو ته به ولسونه راوځي، هلته به د نورو توندلارو په لاس د چا غوږ او د چا پزه پري کيږي، خو د ټاکنو په پای کي به نظارشورا، جمعيت او د دوی نورګوډاګيان او په پښتنو کي د دوی چړوسان لکه ياسيني، فريدون مومند، ګل اغا شيرزی، رسول زلمی او نور د لويي جرګي په خيمه کي د کودتا ګوابنونه کوي، د موازي حکومت په لاپو باټو به د ټولټاکنو پايلي د يوې معاملي ښکار کوي او د يوه منتخب حکومت پرځای به اوه سری حکومت پر ولس تپي!
په داسي وخت ولس ته پکار دي چي د خپلو کارشويو وټونو پوښتنه وکړي او د هغه چا پر وړاندي د مقاومت مورچل جوړ کړي چي د دوی د وټونو پر مټ د منتخب حکومت پرځای يي پرې د معاملي جوړ شوی حکومت وروتپه!
منتخب حکومت د ولس په ويښتيا،هوښيارتيا او د ډيرکيو په يووالي رامنځته کيږی!
پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ